**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**د اقتصاد وزارت**

**مالي او اداري معینیت**

**د غیر امارتي مؤسسو د نظارت او ارزونې ریاست**

**د غیرمارتي مؤسسو د نظارت او ارزونې آمریت**

**ګڼه: ۳۲۷۶/۳۲۷۵** **د صدور نېټه: ۱۴۰۲/۱۲/۲۱ هـ ش - ۱۴۴۵/۸/۱۹ هـ ق**

---

**متحدالمآل (ټولو کورنیو او بهرنیو مؤسسو ته!)**

**د ۱۴۴۵/۳/۱۲ نېټې د (۲۰۸ پر ۱۳۵) ګڼه متحدالمآل په تعقیب لیکو:**

لکه څرنګه چې د پورتني متحدالمآل څوارلسمه ماده صراحت لري (مؤسسې مکلفیت لري چې د لوژیستیکي او ودانیزو قراردادونو په پروسه کې د ناظر په توګه د اقتصاد وزارت استازي ته بلنه ورکړي)، خو لکه څرنګه چې لیدل کېږي یو شمېر غیر امارتي مؤسسو تر اوسه پورې د دې مادې په مفاد عمل نه دی کړی او په خپل سر خپله تدارکاتي پروسه پر مخ وړي.

بناءً، موضوع متعاقباً غیر امارتي داخلي او بهرنیو مؤسسو سره شریکه شوه او هغوی ته هدایت ورکول کېږي چې په خپله تدارکاتي پروسه کې پورتنی مطلب جداً رعایت کړي.

**په درناوي**

**مولوي محمد عالم "جمیل"**

**مالي او اداري معین**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.